PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مرآت الجهاد

لومړي کال (۱۹)گڼه ، ۱۳۶۹هـ ش د دلوي (۳)

اسلامي حزب خپل دفترونه افغانستان ته لیږدوي

دجهاد هنداری خبریال – دجدی ۲٤مه :

دمرلوی محمد یونس خالص ترمشری لاندی دحزب اسلامی افغانستان تنظیم غواړی دخپل تنظیم دفاتر له پیښور څخه دافغانستان داخل ته انتقال کړی .

دغه موضوع دتیری دوشنبی په ورځ دهغه غونډی په ترځ کې چی دشمشتو په کمپ کې جوړه شوی وه ، دحزب اسلامی افغانستان دمشرانو له خوا اعلان شوه .

په بغلان کې د مزدوررژیم (۱۰) تنه وژل شوي اودوه زغره وال ټانکونه ویجاړ شول

په اتم مخ کې

پرعراق دامریکا دیرغل په رابطه نړیوال عکس العمل

پنځم مخ

دیکتیا یو زرور قوماندان الحاج عبدالرحمن :

زه خود مجاهدینو له حکومت نه پرته بل حکومت دکفر حکومت گڼم اونه یې منم

په دریم مخ کې

دبگرام هوايي ډگر اودکابل ، سالنگ په لویه لارکې دمجاهدینو بریالي عملیات

دپروان له جبهې څخه په راغلو خبرونو کې ویل شویدي چې دبگرام هوايي ډگر دجدي په ۲۳ مه نیټه دمجاهدینو ددرنو وسلو ترډزو لاندي ونیول شو.

پدې حملو کې ددښمن یو جگړن منصبدارهلاک اودهوایي ډگرپوځي تأسیساتو ته زیات تاوانونه اوښتي دي .

همدارنگه په هغو عملیاتو کې چې دمجاهدینو له خوا دکابل سالنگ دلویې لارې په اوږدو کې ترسره شول دگوډاگي رژیم ۸ تنه ملیشیان اوعسکر په هلاکت ورسیدل او٤ تنه یې دمجاهدینو تراسارت لاندي راغلل ، اوهم یو عراده ټانک داورلمبه شو .

دروسیې یوه الوتکه وتښتول شوه

دبي بي سي راډیو دخبر سره سم دشوروي یوه الوتکه په یوه داخلي پروازکې تښتول شوې اودبلغاریې په یوه هوايي ډگر کې کینول شویده .

لومړي دغه الوتکه دترکیې په استانبول کې راښکته کیده خوداجازي نه موندلو په اثر له هغه ځایه بلغاریې ته ولاړه .

تراوسه تښتوونکي اودهغوي اهداف نامعلوم دي .

ایران پرعراق دسختو بمباریو غندنه وکړه

دایران جمهوررئیس هاشمي رفسنجاني دیوي وینا په ترځ کې پر عراق دامریکا اودهغه متحدینو دهوايي قواؤ سختې بمباري وغندلې ویې ویل چې امریکا غواړي دکویټ دازادي پر پلمه دمسلمانانو شتمنې اوهستي غاوري کړي ، رفسنجاني غوښتنه وکړه چې دعراق پرولس دي زرترزره دغه وحشیانه بمباري پای ته ورسیږي

په خلیج کې خونړۍ او ورانوونکې جگړه پیل شوه

په دوهم مخ کې

جنگ به تردریو میاشتو پورې دوام ولري «فرانسوي جنرال»

دفرانسوي پوځي قواو مشر « میورس سکمیت » ویلي دي چې دامریکااومتحدینو له درندو عملیاتو سره سره تراوسه له عراق سره « ۳۰ » دسکډ توغندیو توغولو سیاري دستگاوي شته ، هغه ویلي چې پر اسرائیلو اوعربستان دنورو توغندویې بریدونو امکان هم شته فرانسوي جنرال ویلي دي چې زما په گومان به جگړه دوه یادري میاشتي اوږده شي .

جنرال عظیم «زرمتي» دشهنواز «تني» سره په یو لاس کیدو متهم شویدی

میډیا دلوگر ولایت څخه خبرورکوي چې په لوگر کې دمزدوررژیم دقواو مشر جنرال عظیم « زرمتي » پس له هغه چې دي قواو دمجاهدینو له خوا ماته وخوړه له شهنوازتني سره دیو لاس کیدو په تورمتهم شویدي اوپه نظر کې دي چې دده ځاي به جنرال امام الدین ته وسپاري .

ویل کیږي چې درشید دوستم له ملیشي څخه به یوولس زره کسیزه قوادامام الدین په مشري دلوگر ولایت ته ولیږل شي .

خودحق الزحمي په وجه درامنځته شوو اختلافاتو له امله رشید دوستم دخپلو افرادو له تسلیمي څخه ډډه کړیده .

دوعضو برجسته سازمان ازادیبخش فلسطین کشته شدند

درصفحه ۷

دکابل رژیم ۳٦ تنه هلاک اوټپیان شول

دکابل نه راغلي خبرونه وايي چي مجاهدینو دجدي په ۲۱ نیټه دیولړ بریدونو په نتیجه کي ددښمن ۲۰ تنه پلویان هلاك او۱٦ تنه نورټپیان کړیدي .

په دغه بریدونوکي چي دشکردري ولسوالی دکوه سیاه بیني اودپغمان دسفید خاك پرپوستو ترسره شوي کابل رژیم ته درانه تاوانونه اوښتي دي اوهم ٥ میله کلاشینکوفونه اویوه اندازه مهمات دمجاهدینو له خوا په غنیمت نیول شویدي .

سرمقاله

دخلیج جگړه ! اسلامي امت ته بله فاجعه

نن نړیوال داسلامی امت دیوه بل سترماتم شاهدان دی ، یوځل بیا داسلامی امت ځیگر اوټټر دطاغوتیانودغیښو اونیزو ښښه ده ، دجگړی اوربل دی دوینورودونه بهیږی اودانسان غوښی پکی ورتیږی ، دکوم انسان؟

دمظلوم مسلمان ! دخلیج په سیمه کی داوسیدونکی انسان ! اودادی بالاخره له یوه نسبتاً اوږده اوتلولی انتظار وروسته په خلیج کی دیوی خونړی جگړی اوربل شو ، دسولی او سلامتی چوپتیا ماته شوه ، اودغه چوپتیا هغه وخت ماته شوه چی دمرغومی په (۲۷مه) نیټه دفارس خلیج په اوبو کې دامریکایی جنگی بیړیو نه پر بغداد دکروز ویجاړوونکو اوخطرناکو راکټونو توغول اووریسی دبغداد پربنادلویدیځوالو دسوونو جنگی الوتکو غړونه جگ شول.

دسولی کوتره مړه شوه اودغه کوتره هغه وخت مړه شوه چی دفارس خلیج پرسیمه دامریکایی فانتوم (F-16, F- 17) اوتورنیدو ډوله خونړیو کارغانو الوتنی اوبرغلونه پیل شول .

اوبالاخره هغه خونړی جگړه ونښته چی ټول تاوانونه اوخطرونه یې مسلمانانو اواسلامی نړی ته تکیه کوی او ټوله گټه اوهوس

په اتم مخ

داردن پارلمان امریکا «سترشیطان» وباله

په پنځم مخ کې

کشمیر تیرکال دوینو په ډنډ کې

دریم مخ کې

په خلیج کې چې کوم مصیبت په مسلمانانو راغلی ، عالمانو ته په کار دي چې دسهار په لمانځه کې قنوت نازله ووایي مسلمانان روژې ونیسي ، نفلي اوتهجد لمنځونه وکړي اودخدای (ج) په دربار کې دعاوګرې چې خدای (ج) دغه شر اوفتنه دمسلمانانو له سره لرې کړي

« الحاج حقاني »

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

وحدت

دهیواد داسلامي تحریك غړي له ګډ تربیون څخه خبري کوي

دجنوري په لسمه نیټه دپنجشنبي په ورځ دپیښاورښار په خمکنیو کي دافغانستان داسلامي تحریك دسابقه دارو غړیو په رهبري لویه غونډه چي پکي له ټولو جهادي تنظیمونو څخه دافغانستان داسلامي تحریك غړیو اومنسوبینو برخه اخیستي وه زموږدهیواد دجهاد اوپه افغانستان کي داسلامي تحریك په ژوندکي نوي اوښتون بلل کیداي شي کوم چي به په هیواد کي په سیاسي تولنیزو اوفکري کړیو کي یو ظاهراً خاموش ولي زړورخوځښت راوپاروي دافغانستان اسلامي تحریك وړاندي لدي چي په تربیتي اوتشکیلاتي لحاظ دځواني مرحلي اویوه سیاسي فکري بلوغ ته ورسیږي په افغانستان باندي دروسي یرغل په پیل سره ناڅاپه دهغه تنکي اوږي دوومهمو اوتاریخي رسالتونوته اړم کوي : لومړي دتعلیم اوتربیي اودعوت پرلیکه دیوي اسلامي تولني اوحکومت جوړول اودوهم دپردیو له کفري سلطي څخه دخپل کوراوهیواد آزادي . دوهم ټکي دافغانستان داسلامي تحریك ژوند دمبارزي دول٬وزن اوتاکتیك ته دنړۍ له نورو اسلامي خوځښتونو څرګند توپیر وربښي په جرأت باید ووایو ، په هغه ظروفواوشرایطو کي چي زموږدهیواد اسلامي تحریك داسلامي مبارزي توغ اوباړپورته کړ دانساني مقاومتونو اومبارزو په تاریخ ممکن کم ساري ولري دافغانستان داسلامي تحریك غړیو ددي پیړۍ دهرسیاسي ګوند اوتشکیل په نسبت درنه قرباني ورکړه دتحریك غړي له قوم اوولس بیل نه وو ولس فخرلري چي ټول ددوي زامن اودهغوي په غیږو کي روزل شوي وو ولي دولس په منځ کي هغه طبقه چي ددي ستري قرباني په سخت مورچل کي یي لومړي ګام کیښود اوټولو ته یي پدي ددریدو اوپورته کیدو جرأت وبښه زموږدهیواد داسلامي تحریك هغه باعزمه ځوانان وو چي ګڼ شمیر شهیدان شول اوګڼ شمیر یي په اوسنیو سیاسي جهادي ګوندونو کي سره تیت اوپرك شوي پدي کي هیڅ شك نشته چي اسلامي تحریك تراوسه هم په افغانستان کي په فکري اوعلمي لحاظ دیوه اسلامي نظام دپیاده کیدو جاغورداوزورنلري ، ولي داددي معني نلري چي پدي تحریك کي په دي نافتحه شوي مورچل دختلو قوت اوجرأت هم نشته له فکري اوتربیتي نیمګړتیاو سره سره چي زموږاسلامي تحریك ورسره لاس اوګریوان دي ، تربوي اندازي دپردیو لاس وهنو اودهیواد دچپي ډلو پټو اوښکاره زد وبندونو اوڅه هم دمبارزي په اوږدوکي دتحریك له بنیادي کړښي څخه دتحریك دغړیو کږیدو تقریباً دافغانستان اسلامي تحریك په سیاسي - نظامي قطبونو اوګروپونو کي ذوب کړي هغه کوم عوامل دي چي استاد سیاف یي په هجرت کلي ، مولوي صاحب خالص یي په شمشتو٬انجنیر حکمتیاریي په نصرت مینه اواستاد رباني یي په دروسره بیل کړي دتحریك په منځ کي دهدف په لوردلاري په تعین لومړي اختلاف دداؤد په وړاندي دمبارزي له پیل رامنځ ته شوي شاید دنني ګډوډي مسؤلیت اودروند باردتحریك دمشرانو پرغاړه وي کوم چي تراوسه ونه توانیدل چي دمعین اوګډ هدف په لورهغه لاره سره یوه کړي چي نن ټول ولس لدوي سره پري روان شوي موږونشواي کړاي چي دافغانستان دجهاد په خلاف

اووم مخ

په خلیج کي خونړۍ او ورانوونکي جګړه پیل شوه

دریوټ تهیه کوونکی : ر- ملاخیل

وروسته له هغی چی دامریکی متحده ایالاتو او دملګرو ملتونو دسازمان دامنیت شورا له خوا دټاکل شوی ضرب الاجل موده دجنوری په (۱۵مه) پای ته ورسیده ،دامریکی متحده ایالاتو اودهغوی دمتحدینو له خوا دفارس په خلیج کی دکروزدوله مرمیو په فیردعراق پرخاوره خپل برید پیل کړ اوپدی توګه دخلیج په سیمه کی یوه خونړۍ نښته پیل شوه :

دنړیوالوخبری اژانسونو له قوله دامریکا دمتحده ایالاتو اودهغوی دمتحدینو فضایی حمله دجنوری دمیاشتی په (۱۷مه) نیټه دپاکستان دوخت مطابق دسهارپه پنځه نیمو بجودسعودی عربستان د«ظهران» په ښارکی دامریکی اومتحدینو دفوځی اډی څخه پیل شوه ، چی دامنیت شورا دمیعاد له پوره کیدوڅخه (۳۰، ۱۸) ساعته وروسته وه . دپاکستان دنوای وقت ورځپانی دخبر مطابق دمتحدینو دفوځ په لومړی هوایی حمله کی ۲۵۰۰ جنګی الوتکو برخه اخیستی وه چی ۱۰۰۰ واره یی په بغداد اودعراق په نورو ښارونوکی په مهمو ستراتیژیکو اوفوځی مراکزو ۱۸۰۰۰ ټنه بمونه وغورځول .

پرعراق باندی دمتحده پوځونو له بریدڅخه لږوروسته دامریکا دسپینی ماڼۍ یوه ویندوی اعلان وکړ چی دکویټ دآزادی لپاره دمتحده قواو نظامی عملیات د« دښتی طوفان » ترنامه لاندی پیل شوی اوددی قواو جنګی الوتکو په پرله پسی بمباردمان سره دعراقی هوایی پوځ دپروازخطوط ، دبعث ګوند مرکزی دفتر ، صدارتی ماڼۍ ، دعراق دکیمیاوی اواتومی وسلو جوړولو کارخانی اودفاع وزارت ماڼۍ تربرید لاندی نیولی دی .

دسپینی ماڼۍ دویندوی له خبرو څو دقیقی وروسته دمتحده ایالاتو جمهوررئیس «جارج بش » دامریکا ملت ته دیوی راډیو تلویزیونی وینا په ترڅ کی وویل چی متحده قواوی بالاخره مجبوره شوی ترڅو دکویټ دآزادولو لپاره پرعراق باندی پرپوځی حملی لاس پوری کړی « بش » ادعا وکړه صدام حسین په خپل تکبر اوغرورسره دمسالمت آمیزه حل ټولی لاری وتړلی اوپه یوه کوچنی آزاد هیواد باندی بی خپلی سلطی ته ادامه ورکړه .

له بلی خوا دعراق جمهوررئیس صدام حسین پرعراق باندی دامریکی پوځونو له حملی وروسته په خپله یوه وینا کی وویل چی دامریکا اودهغه دمتحدینو پوځ ، دفضایی حملو له لاری دعراق په ختمولو ندی بریالی شوی صدام حسین چی دبغداد له راډیو تلویزیون څخه دعراق ملت اوپوځ ته وینا کوله وویل چی : « خدای (ج) له موږسره دی ، انشاالله فتحه به زموږوی»

صدام حسین وویل چی دادحق او باطل ترمنځ جګړه ده اوبری به دحق په لوری وی همدارنګه دبغداد راډیو ادعاوکړه چی په لمړی حملی کی له برخه اخستونکیو الوتکو څخه (۱٤) الوتکی دعراقی پوځونو له خوا راغورځول شوی دی ، خودمتحده پوځونوقوماندانی اودمتحده ایالاتو ددفاع وزارت دغه خبره ردکړه.

همدارنګه دخبری آژانسونو دراپورونو په اساس دامریکا اومتحده قواو دوهمه ګډه فضایی حمله دپاکستان په وخت دورځی یوولس نیمو بجو ، پرعراق باندی ترسره شوه ، چی الوتکو په بغداد او نورو ښارونو کی ځینی مهم پوځی مراکز ترخپل بریدلاندی ونیول ، که څه هم دامریکی ددفاعی چارو مسؤلینو ادعاوکړه چی په لومړی حمله کې یی دعراق رادارسیستم اودلری واټن ویشتونکو سکاډ میزایلو مراکز فلج کړی خووروسته جګړی داثابته کړه چی دامریکا دغه ادعا غلطه وه .

دپاکستان دنوای وقت ورځپاڼی دراپورسره سم دعراق مشر صدام حسین دمتحدینو له حملی څخه وروسته دبغداد په بازاراوکوڅو کی وګرځیدو ، اودخلکو پوښتنه یی کوله ، ویل کیږی چی صدام حسین دهوایی دفاع اودتلویزیون له مراکزوڅخه لیدنه وکړه اوپدی توګه یی دعوامو اوپوځ مورال اوچت کړ .

دامریکی دتلویزیون د«C.N.N»شبکی اودنورو نړیوالو خبری اژانسونو دراپورسره سم دجګړی ددوهمی ورځی (جمعی) په سهاردپاکستان پروخت داوه نیمو بجو په شااوخوا کی دعراق له خوا (۸) میزائیل په اسرائیلو باندی وویشتل شول ، چی پر«تل ابیب» ، «حیفا»

په شپږم مخ

مقاومت شجاعانه مردم افغانستان به افسانه شکست ناپذیري کمونیزم پایان داد

جنگ افغانستان برنظام سیاسی وجامعه روسیه اثرات عمیق بجا گذاشته واصلاحات جاری.روسیه معلولی دوعلت میباشد که اولین وعمده ان جنگ افغانستان بود که روسها دران شکست خوردند علت دوم ان پروگرام تسلیحاتی امریکا درمقابل تسلیحات روسیه بودکه بیك مسابقه پرخرج مبدل گشت.

این مطلب را«انتونی ارنولد» یك نویسنده مشهورامریکایی درمصاحبه بارادیو صدای امریکا به ارتباط یازدهمین سالگرد تجاوزروس برافغانستان ابرازداشته افزوده است جامعه شوروی بخاطر توسعه امپراتوری به هرگونه قربانی مالی واقتصادی اماده بود ، سطح زنده گی مردم شوروی به مقایسه سایر کشورهای انکشاف یافته درسطح بسیار پائین قرارداشت واین بخاطری بود که بخش بزرگ عایدات ملی به تسلیحات وخدمات نظامی بمصرف میرسید اما مردم شوروی نمیتوانستند برین روند انتقاد نمایند.

اردو وسیله توسعه جویی روسیه بود اماوقتیکه مردم دیدند که اردو درجنگ افغانستان شکست خورد ومردم افغانستان توانستند سدراه توسعه طلبی روسیه گردند عدم رضایت مردم روسیه دربرابر دولت واردوافزایش یافت وشکست اردو برروحیه مردم عمیقاً اثر منفی گذاشت.

«تام گوتیر» رئیس مطالعات بین المللی درپوهنتون نبراسکا باین عقیده است که جنگ افغانستان برجامعه روسیه اثر بسیارعمیق گذاشته است وضمن بررسی اثرات جنگ های افغانستان وویتنام برجوامع شوروی وامریکا میگوید ، تاثیرات جنگ افغانستان برجامعه شوروی بیشتر ازاثرات جنگ ویتنام برجامعه امریکا بود اگر جامعه روسیه مطالعه شود . این دیگر همان جامعه که قبل ویادردوران جنگ افغانستان بود ، نیست . درجامعه شوروی ازاثر جنگ افغانستان تغیرات ودیگر گونیهای عمیق انقلابی بوقوع پیوسته است .

«گوتیر» می افزاید : جنگ افغانستان ماهیت نظام روسیه رابه مردم روسیه وجهان نمایان ساخت وتغیردرنظام روسیه رابیك امرضروری مبدل ساخت مردم شوروی بخصوص جوانان برپالیسی که موجب حمله بر افغانستان گردید انتقاد می کنند وان فلسفه رانامتناسب به ایجابات عصر میخوانند .

«گوتیر» میگوید این گروه اجتماعی برمقامات سیاسی و نظامی روسیه اعتراض نموده حتی ان عساکر رانیز مورد ملامتی قرارمیدهند که درجنگ افغانستان سهم گرفته بودند.

به عقیده «گوتیر» بنابرهمین

درنتیجه مقاومت شجاعانه وقهرمانانه مردم افغانستان بود که افسانه خود بافته شکست ناپذیري کمونیزم همچون یخ آب شد

په اووم مخ

زه خو دمجاهدینو دحکومت نه پرته بل حکومت دکفر حکومت گڼم اونه یې منم

حاجی صاحب عبدالرحمن دحاجی سدو خان زوی اود وزی ولسوالۍ اوسیدونکی دی ، په ۱۳۵۸ کال کی یی دجهاد وسله په اوږه کړی اوترننه پوری دجهاد په ویاړمنو لیکو کی دی ، حاجی صاحب ډیرمخلص اوزړورقوماندان دی ، دمحاذ ملی اسلامی تنظیم سره اړیکی لری اوس په شمل دره کی جهادی مرکزلری اوترزرو تنو مجاهدینو پوری وسله وال قوت لری چی همدا اوس هم دخوست دکلابند ښارپه شاوخوا کی ددوی مجاهدین شته .

پوښتنه :-که په پکتیا کی دمجاهدینو په جنگی تاکتیکونو اواستراتیژی نخه رڼا واچوی ډیره مهربانی به مووی؟

ځواب :- لکه په ټول افغانستان کی په پکتیا کی هم مسلمان ولس پاڅون وکړ، په خالی لاس یی ددښمن پر ولسوالیو ، علاقه داریو اونورومرکزونو حملی وکړی او دخپلو قربانیو په زوریی په ډیره کمه موده کی دپکتیا ډیری سیمی ازادی کړی اوس په ټوله پکتیا کی یوخوست ، گردیز اوځاځی میدان پاتی دی ، هغه هم محاصره دی ، مجاهدینو کلابند کړی دی .

په دی تیرودوولسو کالوکی دمجاهدینو اوبی دینه حکومت په جنگی وضعیت کی ډیر توپیر راغلی ، مجاهدین ډیرغښتلی شوی ، تجربی یی

> اوس جنگ ډیرخونړی اوخطرناك دی نظردجهاد لومړیو کلونو ته اوس بلکل ډیر خطر ناك دی خوبری اخر انشاالله دمجاهدینو دی اودښمن به نسکوریږي

پخی شوی په جنگ کی تکړه شوی اوښی وسلی یی په لاس کی لویدلی ، په مقابل کی حکومت هم په همدی پیمانه تجربی حاصلی کړی اونوی نوی وسلی چی ډیرخطرناکی اومضری دی اوس په واك کی لری نواوس جنگ ډیر خونړی اوخطرناك دی نظر دجهاد لومړیو کلونو ته اوس بلکل ډیرخطر ناك دی خوبری اخر انشاالله دمجاهدینو دی اودښمن به نسکوریږي .

پوښتنه :- په پکتیا کی لومړی په کوم ځای کی جهاد پیل شواودچاپه قومانده ؟

ځواب :- په پکتیا کی دتره کی دراتلو نه لږ موده وروسته قیام پاڅیده دداؤد په وختونو کی دغه حقانی صاحب اوځنی نورکسان پاکستان ته مهاجر شوی وو کله چی تره کی کودتاوکړه دوی بیرته راغلل اوخلك یی پوه کړل په نتیجه کی ولس داسلام په لارکی قیام وکړ.

پوښتنه :-دهیواد په جنوبی سیمو کی دمجاهدینو ترمنځ کومه شورا شته اوکه نه اوکه وی تاثیر یی په جهاد څه ډول دی ؟

ځواب :- په جنوبی کی دوه ډوله شوراگانی دی یو دتنظیمونو دقوماندانانوترمنځ شوراگانی دی اوبل قومی شوراگانی دی ، چی ددواړو اثر دخدای (ج) په فضل دجهاد په لیکو ډیرمثبت دی تراوسه په جنوبی کی دخدای (ج) په فضل تنظیمی جنگ نه دی پیښ شوی ، که څه اختلاف راغلی بیا سمدستی دسیمی قومی شورا چی دعلماو سپین ږیرو اومخورو نه جوړه وی راټولیږی اودقوماندانانو په شمول خپل مشکل حل کوی .

همدغسی که په کوم ځای ځحملی پروگرام وی دغه شوراگانی خلك راغونډوی اومنظم یی جنگ ته لیږی ، دغه دشورا گانو برکت دی .

پوښتنه :- دافغانستان دمسئلی لپاره بیلی بیلی طرحی وړاندی کیږی چی دهغه ددریمگړی حکومت ، دموجوده عبوری حکومت اولویی جرگی نوم اخستل کیږی، تاسی په دی رابطه څه نظر لری ؟

ځواب :- دادریم گړی حکومت خو ماته دکفر حکومت ښکاری - ددریمگړی معنی څه ده ؟ زه خو دمجاهدینو له حکومت نه پرته بل حکومت دکفرحکومت بولم اونه یی منم ، زما په نظر باید دافغانستان راتلونکی حکومت دافغانستان دمجاهدینو ، علماو اوقوماندانانو په خوښه حکومت وی ، دا چی که په همدغه عبوری حکومت کی څه تغیر اوتبدیل راوړی ، که بل جوړوی خوچی مجاهدین پری راضی وی هغه حکومت به په افغانستان کی جوړیږی اومجاهدین به یی منی ، که دلویی جرگی له لاری وی ، که دانتخاباتو له لاری اوکه په کومه بله لاره .

پوښتنه :- دقوماندانانو شوری چی اوس فعاله شویده ددغی شوری دموجوده فعالیت

> زما په نظر باید دافغانستان راتلونکي حکومت دافغانستان دمجاهدینو ،علماو اوقوماندانانو په خوښه حکومت وي ، داچي که په همدغه عبوري حکومت کې څه تغیر اوتبدیل راوړي ، که بل جوړوي او مجاهدین به یې مني ، خوچې مجاهدین پرې راضي وي

نخخه خومره مطمئن یاست ؟

ځواب :- زه تراوسه دشورا له ټولو فعالیتونو نه یم خبر ، خو داواضع خبره ده چی که ددی شورا ترشاملت ودریږی نوکیدای شی چی یو ښه قوت شی اودملت مشکلات حل کړی

پوښتنه :- دیوه واحد قیادت درامنځته کیدو له پاره تاسی کومه لاراوطرحه موثره گڼی ؟

ځواب:- داقوماندانان ، علمااوسپین ږیری چی راټول شی یولاس اویوه خوله یو مشروتاکی همدغه لاره ده ، خوقوماندانان هغه چی وسلی یی نه وی خرڅی کړی - خیانت یی نه وی کړی علماء اوسپین ږیری هم دغسی چی له ملت سره یی هیڅ خیانت نه وی کړی نودا چی راټول شی یومشروتاکی اوبس بله لاره خوزما په نظر نشته.

په اخرکی زه خپل مسلمان ولس ته غږکوم چی دخدای (ج) درضا په خاطر دجهاد په صف کی سره راټول شی اوټول په یوه لاس دکفر مقابله وکړی

کشمیر تیر کال دوینو په ډنډ کې

دسید شهریار ژباړه

« داهم دکشمیر دتصویر یواړخ دی » دادمرحوم حفیظ جالندهری دیوه اوږده نظم عنوان دی چی دکشمیر دښکلا اوښایست ستاینه یی پکی کړیده که تردی عنوان لاندی دغم لړلی کشمیر په هکله څه لیکل مقصد وی نوقلم به دوژنی ،لوټماری بی حرمتی ، کورسوځنی ، گولیو چلولو اوپه هدیروباندی دښایسته ګلیو دبدلولو نه پرته دبل شی لیکلو ته تیارنشی ،دظلمونو له تورو شپو څخه ډك یو کال تیرشو، خودی کال دکشمیر په تاریخ اوخلکو باندی خپلی نه لری کیدونکی اغیزی پریښی دی ، دغه کال په کشمیر کی داسی غمونه وزیږول چی دکشمیر دټولی وادی نه دغم کورجوړشو .

هغه ښکلی ښونه چی دقدرت دښایست اوجمال عکاسی یی کوله دښتی اوچمنونه اودانسان دکمال په لاسو نو جوړشوی داښکلی پارکونه اوس بی رونقه اوبدرنگه ښکاری همدارازددی کال په اوږدو کی په وادی کی فقط یوشی ارزانه وُچی هغه مرگ وُ .

دسری نگر لویه لاره دژوندون دښکلایوه نښه وه دورځی به رنگا رنگ موټرو پکی تگ راتگ کاوه اودسرك په ښنی اوکیڼ طرف دکورونو استوگنو به دخپلو باموسرونواودکوټوله کړکیو څخه ددی ښکلا ننداره کوله سږکال به سرله ماښامه دغه سرك وران ویجاړپروت وُ دپوځی نظام دلگولو نه پرته به هم داسی ښکاریده لکه چی سخت ښدیز لگیدلی وی دسرك شاوخوا خلکو خپل کورونه خالی کړی دی ځکه چی دتالاشی په نوم دښځو دعزتونو سره لوبی کول دهندی پوځونولپاره یوه لویه جوړه شوی ده : ۱۹۹۰ ع کال دکشمیر په دود دستورداودخلکو په زندگی باندی ژوره اغیزه وکړه دواده په نوم دیوی اونی جشنونه کول دخپلو خپلوانو دوستانو اواشنایانو سره دسیالی اورقابت په دودونو دپانو په شان دپیسو لگښتونه دکشمیر دخلکو دژوند یوه لازمی او ضروری برخه گرځیدلی وه خو سږکال خلکو ته داهرڅه زاړه اوبی خونده داستانونه ښکاره کیدل ، واده به یی په داسی سادگی اوچوپتیا سره کولو چی یوغوږبه په بل نه خبریده ، نه کوژدنی وی نه ډولی،وی اونه دخوشحالی ښونه الوځول کیدل ، پدی کال کی سینماگانی هم

> په ۱۹۹۰ ع کال کې کشمیر غم ځپلي دخپگانونو کوراوبي رونقه شوخوددوي دغه خوشحالي ، ښایست ، حسن اوښکلا دشهیدانو هدیرو کې ځاي په ځاي شوه دشهیدانو په قبرونو شمعي اوچراغونه بلیږي ، اوخلکو دپارکونو او چمنونو په ځاي هدیره دځان لپاره دتفریح اوپند ځاي گرځولي دي

بیخی بندی وی اویا خودغه ځایونه دپوځیانو مورچی دشرابودوکانونه اودگداگانو صحنی وگرځیدی دهوټلونو نه دښکلا دخرڅلاوځایونه جوړشوی وو.

په ۱۹۹۰ ع کال کی کشمیر غم ځپلی دخپگانونو کوراوبی رونقه شو خوددوی دغه خوشحالی ، ښایست ،حسن اوښکلا دشهیدانو هدیرو کی ځای په ځای شوه دشهیدانو په قبرونو شمعی اوچراغونه بلیږی اوخلکو دپارکونو او چمنونو په ځای هدیره دځان لپاره دتفریح اوپند ځای گرځولی دی غم اوخفگان دکشمیریانو رگونو ته سرایت وکړاوطبعاً دکشمیریانو په ټولنیزژوند یی هم ژوره اغیزه وکړه (اجگموهن د ۱۹۹۰ ع کال جلاد یادکړای شو) دکشمیری خلکو په روایاتو اوقصو کی (چراغ بیگ) غټ رول لری وایی چی یو ظالم بادشاه وُ چی اوس یی هم دظلمونو کیسی په خلکو کی مشهوری دی یوه ورځ خلکو یوه جنازه دهدیری په لورروانه کړی وه چی دچراغ بیگ له سپرلی سره مخامخ شول . چراغ بیگ دجنازی خلك ودرول اودمړی څخه یی پوښته وکړه اووبی ویل چی ژوندو ته خو معلومه ده خوچی اوس دهدیری مړوته هم څرگنده شی چی چراغ بیگ څوك دی خوسږکال هندو مشرجگموهن په کشمیریانو باندی دومره ظلمونه وکړل چی دخلکو څخه یی چراغ بیگ هیر کړو - جگموهن دمولوی میرواعظ فاروق په جسد باندی هم گولی واورولی اودکشمیریانو مړو ته یی دخپل جادو ښودلو هڅه وکړه چی په دی ډول اوس چراغ بیگ دړومبی جگموهن په نوم ونومول شو ځکه چی په سږنی کال کی دکشمیردمسلمانانو دتباهی ، بربادی ، اوعامه وژنی دټولو نه زیات عملیات جگموهن ترسره کړل دخپلو تورواوکرغیړنو کارنامو له مخی کشمیریانو ته دکرکی اونفرت یواځینی سړی دی ځکه کله چی جگموهن دادعوه وکړه چی زه دهند لپاره دکشمیر دساتلو اوگټو لپاره راغلی یم دده ددی خبری سره که دکشمیر په وادی کی دهندوستان لپاره کوم دنرم زړه څښتن ؤ نوهغه هم په ډیر جوش او جذبه دکشمیر دازادی په تحریك کی شریك شو ، په یو بل ځای کی یی دعوه وکړه چی زه به جماعت اسلامی نیست اونابود کړم خلکو ددی ځواب داسی ورکړو چی دجماعت اسلامی پوځی متی (حزب المجاهدین) یی مشهور، فعال ، منظم اویو لوی گوند جوړاوخپله پوره ملگرتیا اوملاتړیی ورسره اعلان کړ ، دغه ظالم اومتعصب هندو دزرهاو بی گناه مسلمانانو دوژنی څخه وروسته داسی بی شرمه گامونه پورته کړل چی بی گناه ماشومان یی هم دژوند له خواږه نعمتڅخه بی برخی کړل دمسلمانانو دوینو په بدل کی دهندوستان سیکولر حکومت ده ته دانعام په توگه دراجیه سبها دغړیتوب پیشکش وکړخووروسته بی دخلکو

نوربیا

جهادي ادب

چـاهـيڅ نـه منلـه خـود عصر قهرمان شومه
زه مثال دتورى ، قربانى په ټول جهان شومه
يادچى په «غازي ميړه» اتل شهيد افغان شومه
زه ژوندى تعبير دتيرعظيم عزت اوښان شومه

***** *** ***

دروس غلام ته !

پياوړي څواك درسره مل دي روسته كيږې ولې؟
دپرمخ تګ هڅې دي كمې پاتي كيږې ولې ؟
دبدرګـو په نښـا تادغـه پاڅـون چي وكـړو
اوس دتګ لوري داشـغـال نه بيزاريږې ولې ؟
خپلي څـيـرني دله هرچاګـړندي ګڼلي
په بشپړ توان دي زيارايستلو ناكاميږې ولې ؟
يادارده هرخـوا دارزښت چي دڼدوري وهلي
په رښتيا ښه كي له خپل نرخ نه كميږې ولې ؟
تابه دي نوروسـره كـړلي دميـړاني چيـغي
نن دي بل چيغي ته دادومره هوسيږې ولې ؟
چي پرڅول به دي په غيرکي رستمان په ځمكه
دننګياليو له دغرو په ځنګ كيږې ولې ؟
په زغـره ډال كي وي له واړه پرګنو غښتلي
دايماني توري له شرنګ ښخـه ويريږې ولې ؟
تاخوويل چي زه په غيرږدي سرولمبو كي لوي يم
زه«حمدي» وايم بيا دخپل سيوري داريږې ولې؟

لاله زار

كشمير بيدارشو دغفلت خوبونه ولړزيدل
دغـلامي په بند بندي قـومـونه ولړزيدل
بس يوه چغه دتكبير وه چي يې پورته كړله
لات اومنات ته سجده ريزسرونه ولړزيدل
يوداسي تندرداسمان شو دكشمير مسلمان
چي دهندو دظلم سـره اوږنـه ولړزيدل
دابدالي بچي ميدان كي بيا پيرونه وهي
جوړپاني پت دي ددښمن فوځونه ولړزيدل
دالله هو چغـه كـړه پورته قلندرد ميني
تري نه دوخت دزرپرست تختـونه ولړزيدل
په خپلو وينو يي جوړكړي لاله زاردكشمير
ورته حـيـرانـه دسپـرلي ګلونه ولړزيدل
چي يي په غوړوير، واويلا شوه دكشميردكونډو
په وچو شونډو دصابـرآهـونه ولـړزيدل

جهادي لنډۍ

سپيني مانۍ مې خوښې نه دي
دپت ژوندون تنګه څوكۍ كې تيرومه
دهـوسـونـوپسـرليـه
هغوته ورشه چې يې زړه مستي كوينه
مجاهدينـو ځـان تـياركړ
اوس درخصت دوعاكوي سنګرته ځينه
پيري پيري ته به يي سپارم
زه دغازي په څوكې څلي جوړه ومه
دمجاهدومل شـې خـدايه
ډوډۍ خـوري وچه سرپه تيږه لګوينه

ژوندي بيلګه

نكل — **دصديقي ليكنه**

چى دپولى لومـړى پل
ورواړوى نيغ دى سـتـرګـو ته
شنى سـپـينى جنلۍ ودريږى
ځنى ټيټى اوځنى بيا دومره
جګى دى چى دشـااوخـوا
لمنځوونو سره سيالى كوى
دلمنځوونو ګرداګرد كلابند كړى
ده ، ونى داسى ګڼى دغـره
ترڅو كى ولاړى دى ته به وايى
چى پل پـه پـل يـى ورتـه
سنګرنيولى ترڅو دتيښتى
مخه يى ونيسى خودهغى زړه
بيخى غټ اوسينه يى پراخه ده
نه دونو ددى ګـټى كـلابندى
پرواكوى اونه يى چا دشهيدانو
پرغلبيل غلبيل وجود وير
اوفرياد ليدلى ، ډير دوحشى
روسانو پر ګوليو غلبيل غلبيل
ټټرونه ، ډير داسى ځوانان چى
دواده په نكريزو سره لاسونه
يى دشـهادت په وينو لا سـره
شول ډير دتنكيو ماشومانو
دزړه ټكورونه اوهيلى ، ډير
دارمـانونوډك زړونه اوډيربى
لاسه اوبى پښو جسدونه يى په
خپله پراخـه غـيږكى نيولى
خوپريوه يى هم كړيكه اوژړا نه
ده كړى !!؟ ټول ورته ګوته په
غاښ دى ددى سربيره چى پر
شـهيدانو يى ويراوفـرياد ندى
كړى !! دبمباراودتوپونو دګوليو
دلګيـدو پرواهم نه كـوى ، هره
ګـولۍ يى چى په غـيـږكى
وچاؤدى ورکوټى ياغټ پرهريى
په وجود كى جوړكړى خونه يى
دخـولى كـړيكه وځى اونه له
سترګو اوښكى څڅوى !!! سينه
يى ډيره پراخــه ده ...كله به
چى مجاهدينو دلته سنګرونيوه
بيا قوامخكى نشوه پرى راتلى
وايى چى شهيـدرحيم شاه هم
دجهـاد په پيل كى له همدغـه
سنګرڅخـه دراكټ په لومـړى
ډزدروسانو له ټانك څخه لمبى
پورته كـړى وى چى اوس يى
هم هماغـه سوځيـدلى ټانك
پرسينه دمجاهدينو دكـارنامو
اواتلوليـو دژوندى سـاتلو په
خـاطر پروت دى ، هغـه
دشـهيـدانو دياد ژوندى سـاتلو
يواځنى سـيـنه ده چى نژادى
اونسلى توپيرنه پيژني !!؟

په پنځم مخ كې

لنډه كيسه

په غريډلو سترګو !

دصديق مل ليكنه

هغـه دهجـرت په مـحيط كى دخيمى لاندى دموړپلاراوزړى نيـا سـره رالويه شـوى وه اوپه خپل كم عـمـر كى يى نورهيڅ تحول نه ؤحس كړى ، يواځينى تحـول چى هغى حس كـاوه نوهغه داؤ چى پخوابه په خيمه كى اواوس په يوه وړه اوتنګه كوټنى كى اوسيده ، خيال ګلى نه خپل وطن ليدلى ؤ اونه خپل كلى اوكـوراونه يى دخـپل ښكلى كلى په منځ كى دننګ لوړچينارونه ،نه يى دكلى لمر ختـيـځى خـواته دننګ اولوړغـرليـدلى وو هغى نه كـوچيـان ليدلى وو اونه پدى پوهيده چى كوچيان په خيمو كى اوسيږى په منى پورته اوپه ژمى ښكته ګـرمـو علاقـو ته كـرچونه كـوى اونـه يى دكوچيانو رمى ليدلى وى بس هغى به چى دخيمى چارچاپيره څـه ليـدل نوداسى به يى حس كوله چى له دينه به نوره هيڅ دنيـا نه وى دهغى دسپـرلى رنګين اوښكلى ښايسته باغونه نه وو ترسترګـو شوى بس هغه خړسپيره كمپ يى چى په ژمى اواوړى به په يورنګ خړسپيره اوخړګردونه پكى پورته كيدل ليدلى ؤ.

خـيـال ګلى به كله خپلى غم ځپلى مورته په وړه لهجه ويل ، مورى زموږله كوورونو ايخوا نورڅـه شتـه ؟ مـوريه يى دسوړاسويلى په بدرګه ورته په ځـوا ب كى وويل هولورى ايخوا ډير ستر ستـر بازارونه دوكانونـه دى اوهلته هرڅه پيدا كيږى دهغى معصوم زړه كى به دى بازاراودوكـانو ته زړه خـپـونكى ارزو راژوندى شـوه چى دريغـه دغـه بازاراودغـه شـيـان خـوبى ليـدلى وى خرچاوروستلى وى اوپه څه يى هغه شيان اخستى وى ؟ خيال ګلى به چى كله له خـپلى موراوزړى نيـا څخـه داخبـره ترغوږ شوه چى زموږ څخه هم كـوچيـان جوړشول ، په دوى پورى به مو خندل اوس موږهم خيمو ته محتاج شوو نودخيال ګلـى دذهـن پـه وړه پـرده بـه دكوچيانو دنوم په اوريدو ژوره اغيزه شوه چى دابه څه وړخلك وى ؟

هغى به كله كله له خـپلى موردا تكى واوريدل ، لورجانى كـه خداى (ج) كـول سږكـال پسـرلى تـه به خـپل وطن تـه ولاړشـو خـپل كلى اوخپل كوربه ووينى نوهغى به خپلى مـعـصومى سـتـرګى دموريه سترګو كى ښخى كړى اوپه ډير تعجب به يى ترى پوښتنه وكړه : مـورجـانـى ولـى دازموږكورندى؟ موريه يى ورته ويل : نه لورى زموږوطن خوروسانو نيولى دى اومـوږپه پردى وطن مهاجراوسيږو خيال ګله به يو لحل بيا پريشانه غونډى شوه چى دابه څه وړاوڅـرنګه كلى وى دخپل كلى اندېښنى خيال ګله په دى مـعـصـوم اونازك وجود ډيره ځوروله هره شپه به بى دخوب پروخت له مورڅخه پوښتنه كوله ، مورجانى كلى ته به كله لحو ، اوداكلى چيرته دى مـوريه يى ورتـه پدى باب خبرى كـولى اوخيبال ګلى به داسى حس كـوله چى ګـواكى خپل كلى ته ورغلى ده - كله كله به يى زړه نيـا ورتـه غـصـه شـوه ، ورتـه به يى وويل ويده شـه خـوب وكـړه دومـره ډيرى خبرى څوك دربانـدى كوى خيال ګله به دنيـا له ډاره غلى شـوه مـوراونيـا به يى دواړه په ژورخـوب ويدى شـوى خـوپه خـيـال ګلى به سـتـرګى رډى نيـولى اوسـوچونو به په مـخـه كړى وه ډيرځله به يى په خوب كى له مورڅخه پوښتنى كولى : مـورى زمـوږكلى چيـرته دى اوكله به ورلحو ؟

دخـيـال ګلى پلارچى ډير پياوړى مجاهد وو اوهروخت به په سنګركى پروت ؤ مـيـاشت اوياددوو مـيـاشتـو كى به كله كـورته راپيښ شـو ، نوريه په سنګركى اوسيـده هغـه چى به هروخت كـورته راته نو خـپلى وړى لورته به يى څه سوغاتونه برابر كړى وو.

دمـهـاجـرت ژوند اوله بلى خواسختـه غربـبى اوله بلى خوا دحضرت ګل كاكا دجهاد مينه نه يى څه پيسى لرلى اونه يى دګټلو څوك وو - دمازديګرى پروخت به خيال ګلى ته خپلى مـوروويل : لورى ولاړه شـه لږخس اولرګى راټول كـړه ، بيا به درتـه ډوډۍ پخـه كـړم خـيـال ګله به په ډيره مينه دلرګـيـو اوكـاغـذونو په راټولولو مـازديګرى وخت لګيـا وه اود خپل واړه ټكرى په پيڅـه كې به يى راټولول ، مـورتـه به يى راوړل ، بيـا به يى په هغـو څڅپكو ډوډۍ څه اومه اوڅه پخـه تيـاروله - خـيـال ګله به دمـورترڅنګ نيـغـه ډوډۍ ته ناسته وه چى لا به پوره پخه نه وه دى به ترى يوه خـپـره بيله كـړه اوپه مـينه به يى همداسى وچه خوړله په كمپ كى نورهم داسى غربيان وو چى هغوى به هم دلرګيو داخستلو پيسى نه لرلى خـودخـيـال ګلى دوى غربـبى اخيرى پړاوته رسيدلى وه وچه ډوډۍ بـه هم ورتـه پـه مړه ګيـډه نه رسيده ، غوښى اوكـتـنـغـى خـوددوى په فكر دخانانو كاربلل كيده هره ورځ

په پنځم مخ كي

احتمال کاهش کمکهاي بشري امریکا به مهاجرین

بحران خلیج فارس بدست کشورهای غربی بهانه خوبی راقرارداد تاکمکهای خویشرابه مجاهدین افغان کاهش دهند.

روزنامه اند پیندنت لندن ضمن ابرازاین مطلب نگاشته است که امریکا ، انگلستان ، کانادا وسایر کشورهابه اتباع خود هدایت داده اند تاپاکستان راترك گویند.

روزنامه درادامه نوشته است مقامات امریکایی قصد دارند تابا استفاده وضع کنونی فعالیت های خودرابه مجاهدین ومهاجرین افغان درپشاورکاهش دهند واحتمال دارد شماری ازین موسسات مسدودگردند.

روزنامه افزوده است درگزارشی که سازمان اطلاعاتی امریکا (سیا) به مقامات وزارت خارجه وکاخ سفید فرستاده امده است انعده مامورین (سیا) که دربخش بررسی پروژه های اقتصادی به افغانستان فعالیت دارندباین نتیجه رسیده اند که کاربعضی ازموسسات امریکایی ثمر بخش نبوده ودرین زمره اسمای پانزده پروژه تذکر رفته که برای تحقق اهداف ایالات متحده سودمند نمیباشند.

روزنامه همچنان نگاشته است که امریکامیخواهد کارهای انجام یافته چند ساله موسسات خارجی درپاکستان رابه بررسی گیرد.

باید گفت که مجاهدین ومهاجرین باگرمی گرفتن روابط روس وامریکاکاهش کمك های بشری امریکارابه مجاهدین ومهاجرین پیشبین بودند.

دعاي جمعي براي تامين صلح درشرقمیانه وجهان

بیش ازیك ملیون تن ازمسلمانان سراسر جهان اجتماعي سه روزه خود رادربنگله دیش بادعاي دسته جمعي براي صلح درشرقمیانه بپایان رسانیدند.

طبق خبررادیو صداي امریکا این اجتماع که همه ساله درکناردریاي توراس درشمال داکه مرکزبنگله دیش دایر میگردد دومین اجتماع بزرگ مسلمانان بعدا ازحج میباشد.

درخبر مذکورامده است : تنظیم کننده گان گفته اند که مسلمانان پنجاه کشورجهان درین اجتماع بزرگ دعاخواني شریك جسته بودند سخنرانان این اجتماع دررابطه به جنگ خلیج بیطرف مانده ودعائیه براي ختم جنگ بان اشاره شد

یك قطاراکمالاتي رژیم نابود گردید

مجاهدین ولایت سمنگان طي حمله بریك قطاراکمالاتي رژیم کابل بیست ویك عراده لاري ودوعراده تانك رانابود ساختند.

اژانس خبري (میدیا) مربوط حکومت موقت اسلامي افغانستان ضمن نشر این خبر علاوه نموده است : این قطاراکمالاتي که ازبندر حیرتان به کابل مواد خوراکه راانتقال میداد درمنطقه میان تنگي تاشقرغان وعلاقه داري حضرت سلطان مورد حمله مجاهدین قرارگرفت.

خبر مشعراست دراین عملیات که مدت دوروز رادربر گرفت تعدادي ازافراد دشمن نیزتلف گردیده است.

طبق خبر مذکورمجاهدین دریك عملیات جداگانه درعلاقه داري حضرت سلطان موفق گردیدند که دوپوسته رژیم رافتح نمایند.

خبر مي افزاید قواي هوایي رژیم درانتقامگیري حمله مجاهدین قراي منطقه رازیر ضربات بیرحمانه بم قرارداد که ازاثر ان عده ازاهالي شهید ویا مجروح شده وبسیاري ازمنازل مسکوني نیز ویران گردیده است.

امریکااسرائیلو ته دمیزایلو ضد وسلي ولیږدولي

جنگ ورځپاڼه - دجدی ۳۰ مه دامریکی متحده ایالاتو اسرائیلو ته د« پیټرایټ » دوله دمیزائیلو ضد وسله استولی ده ، ترڅو وکولای شی په هغی سره دعراق څخه ویشتل شوی میزائیل په هوا کی شنډ کړی.

داسرائیلو ددفاع وزارت یوه ویندوی ویلی چی دغه نوی وسله به امریکی اواسرائیلی ماهرین په ګډه نصب اوچلوی په همدی اساس دامریکی حکومت خپل ماهرین هم لدی وسلی سره اسرائیلو ته استولی ویل کیږی چی ددی وسلی څخه وروسته به اسرائیل دی ته نه مجبوریږی چی دعراق دحملو ځواب ورکړی.

وحدت جابرانه کشور روس زیر سوال قرارمیگیرد

پارلمان روسیه تصویب نمود تا بروز هفده مارچ سالجاری درابطه به ساختمان اینده کشورازمردم انکشورهمه پرسی صورت گیرد.

رادیو صدای امریکا بحواله اژانس خبررسانی روسیه (تاس) گفته است که ازمردم روسیه درهمه پرسی پرسیده خواهد شد که ایا میخواهند جمهوری شان دریك فدراسیون که دران تمام ملت ها حقوق مساوی خواهند داشت عضویت داشته باشند ویانه.

درخبر امده است : گرچه کلمات این طرح چندان وضاحت وصراحت ندارد ولی باانهم معلوم میشود که تشکیل اینده باساختمان کنونی فرق خواهد داشت ودارای ازادی های نسبی به جمهوری ها خواهد بود.

خبرعلاوه مینماید : معلوم نیست که طرح قبلی گرباچف رئیس جمهورروسیه پیرامون روابط مستقیم حکومت مرکزی وجمهوری ها شامل این همه پرسی است یاخیر.

کله چی دهغی ترڅنګ تیریږی ډیری مینلدی ، خوږندی ، وروڼه ، پلرونه اوزامن به یی یوه بله خواناست وینی چی دخپلو هغو زړو پر قطرو اوښکی څڅوی چی دلته په ابدی خوب ویده شوی.

هو ! دادځاځیو دشهید پالونکی سیمی دګولی دسرهدیره ده چی عرب ، عجم ، پښتون ، تاجك او ... شهیدان یی په غیږ کی په ابدی خوب ویده دی او راتلونکی ته به دانقلاب دیادژوندی ساتلو ژوندی بیلګه وی.

ژوندي ...

هرچایی چی په غیږکی دخوندی کیدو هیله کړی ده ورته غیږ پرانیستی !! اوس هم

ترتیب اوتولونه : «ر- ملاخیل»

پر عراق دامریکا دیرغل په رابطه نړیوال عکس العمل

پرکویټ باندي دعراقي پوځونو تیري ، اوددغه کوچني هیواد نیونه ، دخلیج له نفتو ډکه ځمکه دهغي خونړي جګړي لمني ته وغورځوله چي بالاخره دجنوري دمیاشتي په اوولسم سهاردامریکي اودهغي دمتحده هیوادونو دپوځ له خوا ، پر عراق باندي دکروز ډوله میزائیلو په ډزو سره پیل شوه که څه هم دنړي په بیلابیلو سیمواوخلکو کي ددي جګړي بیل بیل تاثر و ، خوهغه واحده خبره چي په ټوله نړي کي اودټولو انسانانو له خولي وزي داده چي دغه جګړه نړي والي سولي اوامنیت ته لوي ګواښ متوجه کیږي دامریکي متحده ایالات او دهغه متحد (۲۸) هیوادونه ظاهراً پدي نامه چي ګواکي دعراق حکومت پریوه کوچني ازاد هیواد باندي یرغل کړي او پرهغي یي ناجایزه سلطه ټینګه کړي ، دجنګ میدان ته راننوتي ولي څوك پدي نه پوهیږي چي امریکا څه غواړي !

دجګړي دپیل دخبرله خپریدو سره سم اوحتي له هغي نه مخکي دنړي په بیلابیلو هیوادوکي په لس هاو زره اوپه تیره بیا داسلامي هیوادوخلکو په خپلوملکونو کي په مظاهرو اومارشونو لاس پوري کړ ، اوددي مظاهرو په ترڅ کي یي دجګړي پرخلاف خپله کرکه څرګنده کړه ، مظاهره چیانو همدارنګه دامریکا اودهغه دمتحدینو عمل (دعراق په ولس باندي وحشیانه بمباردمان) په کلکه وغندلو.

دکراچي په ښارکي دوکیلانو یوي اتحادیي دجګړي پر ضدپه یوه مظاهره کي دامریکي قونسل دفترته یو یادداشت ورکړ چي په هغي کي له جګړي څخه دکرکي اونفرت اظهارشوي و.

دپاکستان له راولپنډي څخه خپریدونکي «نواي وقت» ورځپاڼي (وجمعي دورځي دجنوري د۱۸مه) نیټي په ګڼه کي دجمعیت العلماي اسلام لخوا دجمعي دلمانځه وروسته په راولپنډي کي احتجاجي مظاهري وشوي اوددغه تنظیم مشرمولانا فضل الرحمن دامریکا پرضد دجهاد اعلان وکړ.

دجمعي په ورځ په پیښورکي دجماعت اسلامي پاکستان لخوا احتجاجي مظاره وشوه چي ددي تنظیم ایالتي مشرانو له حکومت څخه وغوښتل ترڅو خپل پوځ دسعودي عربستان څخه بیرته راوغواړي.

همدارازدجماعت اسلامي عمومي امیر قاضي حسین احمد دجنګ ورځپاڼي سره په مرکه کي دپاکستان له حکومت څخه همدا غوښتنه تکرارکړه.

په پاکستان کي دامریکایي ضد مظاهرو په لړ کي ماشومان دامریکا ضد شعارونه وړي

په غریدلو ...

مازدیګری به خیال ګلی ته موږویل بچیه له سرك ایخوا ولاړه نشی موټربه دی ووهی خوخیال ګله اخیر دنورو ماشومانو سره په سرك ایخوا تلو کی کامیابه شوه اوهره ورځ به اوس په سرك تیریده څخه خس به یی راټول کړل.

یوه ورځ مازدیګری چه کله خیال ګله بیا په لرګیو اوخس پسی ولاړه ، دوه ځله یی څخه خس راوړل دریم ځل یی مورته هسی سودا پیداشوه اودځندیی په زړه کی څخه بل ورسوچ پیداکړی وو نوخپلی خوابنی ته یی وویل ته یی ګوره خیال ګله خوډیره وځنډیده څخه چل پری وشو نیابی ورو ورو په کړو په ملا پسی راوانه شوه دکیمپ دکورونو ترڅنګ یی لټوله

اوکله کله به یی له نورو هلکانو څخه دخیال ګلی پوښتنه وکړه خوخیال ګلی پاخه سرك ته داسی ټینګه غیږ ورکړی وه چی بیا یی دراتلو زړه هم تری نه کیده هوخیال ګله موټر وهلی وه اودسر نیمایی حصه یی په سرك پوری ټینګه نښتی وه اومازغه یی توی شوی وو خودخپل تکری پیچه یی ټینګه په خپلو واړو لاسونو کی نیولی وه داسی ښکاریده تابه ویل خپل مسافر اومجاهد پلارته یی غیږه ورکړیده.

په همداورځ حضرت ګل کاکا دمیرانشاه په لوری دخپل کورلاره لنډوله اوخپلی وړی لورته یی څه سوغاتونه اخستی وو اویوه وړه پنډه یی تری جوړه کړی وه قضایی ماښام هغه دخپل کمپ سره نږدی له موټرښکته شو ، خوزړه یی څه بل ورغمجن اوخپه و نه پوهیده چی ولی دومره خپه دی څومره چه هغه کورته نږدی کیده دهغه دزړه درزازیاتیده خوخیال ګله داځل دپلارلاری ته راونه وته خوپه غریدلیو سترګو یی پلارته ستړی مشی ورکول.

داردن پارلمان امریکا ته د«سترشیطان» لقب ورکړ

عمان «رویتر» دجدي ۳۰ مه داردن پارلمان دخلیج په جګړه کي له عراق سره دملاتړاعلان کړ اوامریکا ته د«سترشیطان» لقب ورکړ ، دغه پارلمان وویل چي داردن خلك پدي جګړه دبهیدونکي هرڅاڅکي وینې مسؤول امریکا ګڼي ځکه امریکا غواړي داسلامي نړي اوغربي هیوادونو خپلي واګي ټینګي کړي.

په ټوله نړۍ کې دامریکا دیرغل په خلاف مظاهرې

پر عراق دامریکایي هوایي اوتوغندویي بریدونو له پیله تراوسه پرټوله نړي او په ځانګړي توګه په اسلامي نړي کي دامریکا اودهغه دانډیوالانو پر خلاف پراخي مظاهري پیل شوي اوورځ په ورځ یي لړي غځیږي.

دغه مظاهري دامریکاپر خلاف داسلامي نړي هغه نفرت اوکرکه برالا کوي چي له پخوا نه یي له دغه کفري زبر ځواك سره لري اوله ورایه ښکاري چي دخلیج جګړه دفتحي اوماتي په دواړو صورتو نو کي دامریکالپاره سخته، زیانمنه تمامه شوه.

په خلیج کې خونړۍ اوورانوونکې جګړه...

اونورو ښارونو ولګیدل ، داسرائیلی منابعو له قوله ویل کیږی چی دغه میزائیل دکیمیاوی موادو حامل نه وو، او(۱۲) کسان یی ټپیان کړل په داسی حال کی چی عراق ادعاکوی چی درانه تلفات یی اسرائیلو ته وراړولی دی .

پراسرائیلو باندی دعراق دغه حملی دمتحده ایالاتو اونورو لویدیزو هیوادوپه خلکو کی ویره اودارخپورکړی ، ځکه لدی حملی سره دمتحده پوځ دغه ادعا ، چی دفضایی حملو په جریان کی دعراق دلری ویشتونکو میزائیلو دستګاوی په بشپړه توګه له منځه تللی ، غلطه ثابته شوه .

همدارنګه پدغه ورځ دشپی دنهوبجو په‌شاوخواکی دمتحدینو دپوځ الوتکو په بغداد کی دجمهوررئیس صدام حسین داوسیدلو ځای ، بمباری کړ،خوله دی حملی څخه یو ساعت مخکی صدام حسین له دی ځای څخه وتلی و ، پدی ورځ دعراق حکومت ادعا وکړه چی دجنګ له پیل څخه یی تراوسه دمتحدینو (٦٥) الوتکی راغورځولی دی .

له بلی خوا په اسلام اباد کی میشته دعراق سفارت خانی مسئول دهفتی په ورځ له پاکستانی مشهوری ورځپانی «جنګ » سره دمرکی په ترڅ کی ادعاوکړه ، چی عراقی هوایی پوځ ، امریکنی الوتکو ته دمهموپوځی اوستراتیژیکی اهدافو په لوردنژدی کیدلو اجازه نه ورکوی اوهغو یوازی دعراق په غیرنظامی اهدافو باندی بریدونه کوی .

نوموړی همدارنګه وویل چی زموږجنګی تدابیرپه ساینسی بنیادونو باندی ولاړدی ،موږپه صدارتی ماڼی باندی دامریکنی الوتکو دحملی پیش بینی کړی وه .

دجګړی په دریمه (شنبی) په ورځ هم متحده پوځونودالوتکو او«کروز» میزائیلو پواسطه دعراق پرځینو ښارونو باندی حملی وکړی ، دمتحده پوځونو قوماندانی ادعاوکړه چی ددی بریدونو په لړکی یی دعراق هوایی فوځ پرقوماندانی ډزی وکړی متحده پوځونو دعراق په لویدیځه برخه کی دسکد میزائیلو دمراکزو په لټولو بوخت و ویل کیږی چی دمتحده پوځونو قوماندانی پدی اعتراف کړی چی تراوسه یی په جګړه کی فضایی لوړوالی ندی ترلاسه کړی همدرانګه دجګړی په دریمه

ورځ عراق ددوهم ځل لپاره داسرائیلو په خاوره باندی میزائیل واورول .

دپاکستانی ورځپانی (نوای وقت) درپوټ مطابق دعراق « الحسین » نومیو میزائیلو دهفتی په ورځ دتل ابیب اوبیت المقدس په بیلا بیلو قسمتونو کی دیهودو په منځ کی شوراو واویلا ګډه کړه ، ویل کیږی چی دعراق یوولس میزائیل دپنځو پنځو دقیقووقفی څخه وروسته د«تل ابیب » اوبیت المقدس په مختلفو ځایونو غورځیدل چی د«تل ابیب » په مرکز کی دیوه میزائیل له

اوددی قوی احتمال شته چی دامریکی ځینی متحد عرب ملکونه به داسرائیلو پرخلاف په اقدام لاس پوری کړی دجګړی په دریمه ورځ دعراق حکومت ادعاوکړه چی دجګړی له پیل څخه تراوسه یی دمتحدینو دپوځ «۱۰۱» الوتکی نسکوری کړی دی ، پداسی حال کی چی دمتحده پوځونو قوماندانی دخپلو «۱۰» الوتکو پرنسکوریدو اعتراف کړی .

دخبری منابعوله قوله دجګړی په څلورمه (یکشنبی) په ورځ هم دعراق پرښارونو باندی

بریدلاندی نیولی ، دغه راډیو ادعاکوی چی دمتحده هوایی پوځ دکویټ په خاوره کی ددغه ګارد چی دعراق داردو دملاتیر بلل کیږی څوسنګرونه ویجاړکړی ، اوپه لټه کی دی ترڅو ددغه ګارد ټولی مورچی تباه کړی همدارنګه دامریکی دمتحده ایالاتو یوه پوځی ویندوی ادعاوکړه چی په کویټ کی یی دعراق جمهوری ګارد سنګرونه د(B-52) ډوله جنګی الوتکو له خوا په شدت سره تربرید لاندی نیولی دی ، اوددی ګارد دنورو سنګرونو لټه دوام‌لری.

یوه ډله انګلیسي پیلوټان دجګړې له پیل نه څو دقیقې مخکې دحملې دقوماندې انتظارکوي

لګیدلو څخه ددفاع وزارت ماڼی‌درز، درزشوه .

که څه هم اسرائیلی مقاماتو ددی حملودکسات اخستلو اخطارونه ورکړی خوویل کیږی چی امریکایی مقاماتو په ډیرجدیت سره له اسرائیلو څخه غوښتنی ، چی دوی دی مستقیماً له عراق سره ځان په جګړه کی نه اچوی ، اوداالطمینان یی ورکړی ، چی متحده قواوی به ددی حملو کسات له عراق څخه واخلی ، برسیره پردی د« جهاد هنداری» خبریال د«بی ، بی ، سی » راډیو له خولی لیکی چی دامریکا حکومت اسرائیلو ته یو ډول موشك استولی ، چی کولای شی دعراقی میزائیلو حملی په هوا کی شنډی کړی .

«بی ، بی ، سی » راډیو وایی چی اسرائیلو ته ددغه موشکو استول چی تعداد یی پټ ساتل شوی ، دامریکی حکومت ددی غوښتنی پښه ښکارندویی کوی چی اسرائیل باید پر عراق باندی په ځوابی حملی لاس پوری نکړی ځکه په هغه صورت کی به دخلیج داوسنۍ جګړی ساحه نوره هم پراخه شي

دامریکی اومتحدینو دګډ پوځ هوایی بریدونوجریان درلود - ددی ورځی په جګړه کی دمتحدینو پوځ ادعاوکړه چی دوی پرعراق باندی خپل فضایی لوړوالی ترلاسه کړی ، اودعراق دارتباطاتو سیستم یی له منځه وړی .

اوداهغه ادعاده چی اتحادی پوځونه یی دجګړی له لومړی ورځی څخه ترننه پوری همیشه تکراروی.

له بلی خوا دامریکادتلویزیون د«C.N.N»شبکی خبریال چی په بغداد کی دجنګ راپورونه تهیه کوی ویلی دی چی سره لدی چی دعراق عامه ارتباط سیستم داتحادی پوځونو ترمسلسل بمباردلاندی نیول شوی ولی دبغداد راډیو په منظمه توګه خپلو نشراتو ته ادامه ورکوی اودعراق خلك په پوره دلچسپی سره دهغی پروګرامونه تعقیبوی .

دجهاد هنداره‌خبریال د«B.B.C» راډیو له قوله وایی‌چی اتحادی پوځ دیکشنبی ورځی دحملو په جریان کی دعراق جمهوری ګارد ترخپل شدید هوایی

له بلی خوا دلاهور څخه خپریدونکی یو موثقی ورځپانی « پاکستان » درپوټ له مخی دبغداد راډیو ویلی چی اتحادی پوځونو دیکشنبی دورځی په بریدونو کی دعراق غیر پوځی هستوګنځی په نښه کړی چی دهغی په نتیجه کی یو زیات شمیر ودانی‌ویجاړی اوپه سلګونو کسان مړه اوژوبل شوی دی ، همدارنګه دغه راډیو ادعا کړی چی ددی بریدونو په ترڅ کی دمسلمانانو ځینی مقدسه مقامات اوزیارتونه لکه کربلا اونجف اشرف ، زیانمن شوی دی ولی دبغداد راډیو دغه‌ادعا دامریکی پوځی محکمی له خوا رد شوی ده .

همدارنګه دعراق حکومت داطلاعاتو وزیر«لطیف جاسم » دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی چی دیکشنبی ورځی په ماښام په بغداد کی دایر شوی و ، خبریالانو ته وویل چی تراوسه دجنګ نتایج دعراق په ګټه دی اووروستی بری به دعراق وی .

همدارنګه دبین‌المللی اژانسونو دراپورله مخی دبغداد

راډیو ادعاکړی چی داسرائیلو جنګی الوتکی دمتحدینو له الوتکو سره یوځای دعراق پر ضد په بریدونو کی برخه اخیستی ولی ددی راډیو دغه ادعادامریکی ددفاع وزارت له خوا رد شوی .

همدارازدبغداد راډیو دمتحده پوځ دراغورځول شویو الوتکو شمیر (١٥٤) وښود ، ولی دمتحده پوځ قوماندانی تراوسه د«ولسو » الوتکو په غورځیلو اعتراف کړی ، چی له هغی ولی څخه شپږ دامریکی ، دوه دبرطانیی اویوه یوه دکویټ اوایتالیا له الوتکو څخه بلل شوی .

د« B.C.C»راډیو دیکشنبی دماښام په خپرونه کی دخلیج په جنګ باندی دتبصری په ترڅ کی وویل چی دمتحده پوځونو دیکشنبی دورځی له حملو څخه داښکاری چی دغه پوځ غواړی دعراق سره په جنګ یوه نوی جبهه پرانیزی دغه راډیو وایی چی دمتحده پوځونو زیات بریدونه دعراق

پرشمالی سیمو باندی و ځکه داسی ویل کیږی چی عراق خپلی جنګی الوتکی اولری ویشتونکی میزائیل ، دخاوری په شمالی سیمه کی پټو پوځی اډوته انتقال کړی دی .

په داسي حال کي چي دخليج جګړه شپږمي ورځي ته داخله شوه تراوسه پوري پرعراق دمتحدينو ګډ هوايي اوتوغندويي بريدونه دوام لري ، دغه بمباري ډيرمالي اوځاني تلفات له ځانه سره لري دبغداد ښاراوس دبرښنا نه محروم دي اوزيا تره برښنايي اونوراقتصادي مرکزونه سخت زيانمن شويدي ، له بلي خوا عراق هم دمتحدينو د« ١٦٠ » الوتکو دراغورځولو ادعاکوي .

همدارنګه عراق اعلان کړي چي دامريکا اومتحدينو شل تنه پيلوټان يي ژوندي نيولي اودابه خپلو هغو سيمو ته انتقالوي چي پر عراق دبريدونو امکانات ډير دي ، اوتروروستيو شيبو پوري دارسيدلو خبرونو په حواله عراق تراوسه پوري په کلکه مقابله کوي اوپه عراقي قواو کي دهيڅ ډوله ماتي اوکمزوري احساس نه کيږي

په عراق دامريکا...

دجمعيت العلماي پاکستان مشرمولانا شاحمد نوراني اعلان وکړ چي دامريکا پر خلاف په جګړه کي دعراق دملاتړ لپاره دپاکستاني رضا کارانو يوټولي جوړوي چي دعراق پوځ سره به اوږه په اوږه جنګيږي .

دافغانستان دجهاد مشرانو هم په خپل وارسره دامريکي وحشيانه تيري وغندلي اوهغه يي داسلامي امت پر ضد دکفري نړۍ يو ګډ سازش بللي .

دامريکا متحده ايالاتو پر مختلفو ښارونو کي هم مظاهري شوي مظاهره کوونکو دجګړي دختميدلو غوښتنه کړي په هغه مظاهره کي چي دسپيني ماڼۍ په مخ کي وشوه ، مظاهره کوونکو داشعارله ځان سره حمل کولو چي « بش قصاب دي » .

دجمعي په ورځ په نوي ډهلي کي دامريکي ديرغل پرضد مظاهري وشوي چي مظاهره کوونکي دپوليسو له خوا تيت اوپاشان کړاي شول .

پراسرائيلو باندي دعراق دحملي څخه دخوشحالي اورضايت دښودلو له امله د«عمان »په زرګونو ښاريانو دجمعي له لمانځه وروسته په مظاهره لاس پوري کړ .

همداراز په ټول اردن کي دامريکي ديرغل پرخلاف اودعراق په ملاتړمظاهري وشوي .

دبنګله ديش په مرکز (ډاکه) ښارکي دصدام حسين پر ملاتړ د۵۰۰۰ کسانو لخوا يوشانداره مظاهره ترتيب شوي وه اوله خپل حکومت څخه يي غوښتنه وکړه ترڅو دامريکا په خلاف دجهاد اعلان وکړي .

دنړۍ په نورو سترو ښارونو لکه نيويارك ، سان فرانسيسکو ،برلين ، پاريس اوعين کي دهفتي په ورځ نړيوالو په مظاهرو لاس پوري کړ اودامريکا څخه يي وغوښتل ترڅو دعراق په ښارونو باندي بي رحمانه بمباري ته خاتمه ورکړي .

دبيروت څخه خبرونه وايي چي په زرګونوفلسطيني اولبناني مهاجرينوپراسرائيلو باندي دعراق دموشکي حملي څخه دخوشحالي په څرګندولو سرکونو ته راووتل اودخوشحالي مارش يي وکړ.

همداراز دايران جمهوررئيس هاشمي رفسنجاني پرعراق باندي دامريکي اومتحدينو وحشيانه بمباري پرشدت سره محکومي کړي اودهغي دبنديدو غوښتنه يي کړي .

پدي ډول ټولو نړيوالو دخليج دجګړي په رابطه دامريکا دجارحانه اقدام پراخه غندنه وکړه .

مقاومت شجاعانه مردم افغانستان به افسانه ...

علت است که روسیه جرائت، نمی کند که بخارج عسکر بفرستد.

داکتر «موسکالین» امر دیپارتمنت جنوب شرق آسیادرمؤسسه شرق شناسی اکادمی علوم اتحاد شوروی نیز درمصاحبه با صدای امریکا به مناسبت یازدهمین سالروز تجاوز قوای نظامی روسیه بر افغانستان باین حقیقت اعتراف نموده است که جنگ افغانستان درتمام ساحات حیات اجتماعی جامعه روسیه اثرات عمیق بجا گذاشته است .

بگفته موصوف اثرات جنگ افغانستان برجمهوری های آسیای میانه چون تاجکستان ازبکستان وسایربصورت اخص زیاد بوده است زیرا درین جمهوری ها تمایلات واحساسات اسلامی وحاکمیت ملی موجود بوده وجنگ افغانستان انراتوسعه داده است .

نتایج که مسکو ازجنگ افغانستان گرفت اینست که نخست طلسم ابر قدرت بودن روسها توسط مردم افغانستان درهم شکست ثانیاً ورشکستگی فلسفه کمونستی درجهان ونابودی وحدت روسیه بود .

اثرات دیگر عبارتند ازبرانگیختن جنگ ومقاومت درممالك تحت سلطه مسکو بخصوص درکشورهای اروپا ی شرقی وبه کندی گرائیدن روحیه بدام اوردن سایرکشورها باجبر که دارای کلتورجداگانه هستند.

«لودویك ادمك» که ازافغانستان شناسان شناخته شده میباشد درزمینه میگوید : جای شك نیست که عملیات مجاهدین ومقاومت مردم افغانستان بارسنگین راچه ازنظر اقتصادی وچه ازنظر سیاسی بردوش شوروی ها گذاشت چنانچه گرباچف معضله افغانستان رابمنزله زخم خونین برای اتحادشوروی توصیف نموده تصمیم گرفت ، تابخاطر اعماراقتصادی کشورش وجلب دوستی کشورهای جهان بخصوص ممالك اسلامی قوای خودرا ازافغانستان خارج نماید.

«لودویك ادمك» نتیجه گیری میکند که طلسم شکست ناپذیری کمونیزم درافغانستان ازهم پاشید ومقاومت شجاعانه مردم افغانستان یکی ازعوامل عمده انست.

داکتر« پیتر» ازمؤسسه «کینن» که درمورد شوروی ازافراد صاحب نظر بحساب می اید به ارتباط تاثیرات جنگ افغانستان برشوروی گفته است :

جنگ افغانستان به علت اینکه درنشرات انعکاس نمی یافت تاثیرات وسیع درجامعه شوروی نداشت ، روسها ازانجائیکه نمیتوانستند بخاطر موجه جلوه دادن مداخله نظامی شان دلیلی ارایه دهند لذا کوشش نمودند این جنگ راازنظر جامعه شوروی مخفی وبدورنگهدارند.

اما «دیوید ایزبی » متخصص امورنظامی میگوید که مقاومت مردم افغانستان براینده حکمرانی کمونیزم درروسیه تاثیر بزرگ داشت همچنان مبارزه مردم افغانستان درگام نخست برای مردمان اروپای شرقی به الگومبدل شد، زیرا انهاملاحظه نمودند که اردوی سرخ شوروی درافغانستان شکست خورده وباین مناسبت لطمه شدیدی درداخل شوروی به حیثیت وابروی نظامیان انکشوروارد امده است .

اردوی شوروی که ازاقشارمختلف مردم تشکیل شده بود درسیاست روسیه موسسه فعال ونامدارمحسوب می شد ولی بعد ازجنگ افغانستان علاوه ازانکه موثریت خودرا ازدست داد بحیث یك موسسه ظالم وجنایتکارکه باعث قتل یك ونیم ملیون افغان بیگناه وجوانان روسیه گردیده تبارزیافت .

«ایزبی » درادامه میگوید : علاوه برینکه حیثیت نظامیان شوروی دراثر جنگ افغانستان شدیداً لطمه دید درعین حال دراثر همین جنگ بودکه اولین بارمخالفت علیه جلب عسکری بمیان امد وچنانچه درجمهوری گرجستان ضرف چاردرصد ازجلبی ها به خدمت عسکری حاضر شدندوسایر ازحضوردراین نظام خود داری کردند.

غلام علی «آئین » نویسنده افغانی درمصاحبه بمناسبت یازدهمین سالروز تجاوز قوای روسی برافغانستان گفته است افغانستان موجب دوحادثه بزرگ تاریخ گشت یعنی هم سبب شکست ونزول امپراطوری انگلیس شد وهم سبب نزول وشکست امپراطوری روس .

> اردوي شوروي که ازاقشارمختلف مردم تشکیل شده بود درسیاست روسیه مؤسسه فعال ونامدارمحسوب مي شد ولي بعد ازجنگ افغانستان علاوه ازانکه موثریت خودرا ازدست داد بحیث یك مؤسسه ظالم وجنایتکارکه باعث قتل یك ونیم ملیون افغان بیگناه وجوانان روسیه گردیده تبارزیافت

دوعضو برجسته سازمان ازادیبخش فلسطین کشته شدند ...

دوتن ازرهبران سازمان ازادیبخش فلسطین درتونس مرکزکشورتونس که مرکزسازمان نیز درانجا قراردارد بقتل رسیدند .

یك خبر رادیوبی ، بی ،سی حاکیست که کشته شده گان صلاح خلف معروف به ابوایاد که سمت معاونیت یاسر عرفات راداشت وحایل عبدالحمید مسوول امورامنیت سازمان ازادیبخش فلسطین میباشد شخص سوم نیز درین حادثه مورداصابت گلوله قرارگرفته وکشته شده است.

سازمان ازادیبخش فلسطین ضمن نشرابلاغیه عمال دستگاه جاسوسی اسرائیل (موساد) رامسوول این واقعه دانسته است .

خبرحاکیست که بعدازاستماع خبر این حادثه درمناطق تحت اشغال اسرائیل ناارامی های بمیان امده ودرنتیجه تعداد زیاد فلسطینی ها را عساکر اسرائیلی دستگیر نمودند .

اما ناظرین گزارش روزنامه واشنگتن پست رادلیل جدی برای قتل ابوایاد میدانند که نوشته بود سازمان ازادیبخش فلسطین بخاطر اجرای عملیات برمنافع مواضع امریکادرشرقمیانه پلان جامع رابرهبری ابوایاد رویدست دارد ، ناظرین باین ملحوظ ابرازعقیده می نمایند ، دلایل زیاد وجود دارد که این شخصیت شماره دوی سازمان ازادیبخش فلسطین توسط سازمان (سیا) کشته شده باشد . گفته شده است که ابوایاد مخالف هرگونه سازش با اسرائیل بوده است ودرین موضع باياسرعرفات اختلافات داشت ، ابوایاد بارهبری عملیات نظامی دراولمپیای ۱۹۷۲ مونیخ که دران تعدادی ازسپورتمینان اسرائیلی هلاك وتعدادی گروگان گرفته شدند به شهرت رسید ، بناء (موساد) و(سیا)موصوف رابه عنوان رهبری کننده خشونت بارترین عملیات علیه خودبحساب می اورند .

بامرگ ابوایاد سازمان ازادیبخش فلسطین یك مغزمتفکر وسخنران خوب خودرا ازدست داد.

حزب اسلامي خپل دفترونه ...

دغه غونډې ته چې یوزیات شمیر مهاجرینو ،مجاهدینو اومدارسو اومکاتبو شاګردانو پکې ګډون درلود ، دحزب اسلامي دامیر مولوی محمد یونس خالص په ګډون ددې حزب مشرانو هریو حاجي دین محمد ، مولوی نجم الدین اومولوی محمد اسحق په خپل وارويناوی وکړې .

غونډه دسهارپه (۹) بجو دقاری محمود شاه له خوا دقرآن عظیم الشان دڅو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه ، اووروسته دهغې مولوی نجم الدین خپله وینا واوروله نوموړی دخپلې وینا په ترڅ کی افغانستان ته دحزب اسلامي افغانستان ددفاترو انتقالول ، اعلان کړل .

ددې غونډې په وروستي برخه کی دحزب اسلامي مشرانو ، دمهاجرینو پوښتنو ته ځوابونه اودمختلفو مسایلو په هکله معلومات ورکړل .

ددې غونډې ویناوالو افغانستان ته دتنظیم ددفاترو انتقال په هکله وویل چې حزب اسلامي تصمیم نیولی ترڅو په افغانستان کی یو لړ تعلیمي اوتربیوی مراکز او درسګاوی پرانیزي .

غونډه دغرمې دیوی بجې په شااوخواکی دمولوی عبدالشافي دخوا په اختتامیه دعا سره پای ته ورسیده .

دهیواد داسلامي تحریك غړي ...

دمغلقو بین المللي توطئیو اودافغانستان دمسئلي په حل باندي دسیمه ایزو اونړیوالو ځواکونو دبیلو بیلو سیاستونو اودریځو دالي ګولي په حساس دورکي دتحریك ترمشرتابه لاندي دولس لپاره دیوه اسلامي نظام په لورله ګټلي جنګ وروسته یوه روښانه اوسیخه لیکه اولاروباسو.

ځکه نن نه یوازي ولسي کتلي ددښمنانو دقدرت اوګټهو بیلو بیلو جبهو ته کشول کیږي بلکه دهیواد اسلامي تحریك خپل واحد وجود اویوالي له لاسه ورکړي اوداوجه ده چي کله کله دهمغه ګډ هدف په لورزموږځیني مشران دتفاهم نه درلودلو اوپالیسیو دتعدد په وجه « به راهي که میروند به ترکستان است »

په سیاسي اونظامي بلاکونو باندي دتحریك ویشل کیدل ددي باعث شول چي دقدرت لپاره رقابتونه دعقیدي اوایډیولوژي تقاضاوي اواصول ترپښو لاندي کړي اوترهرچاوړاندي دتحریك غړي اومشران لارخطا کړي ، رقابتونه کله هم دومره زیاتیږي چي دکیني اوعناد پوړنه پورته کیږي چي پدي لارکي موږترننه په سل ګونو مجاهدین دخپلو شخصي اغراضو قرباني کړي دي مسئله نن سبا دي ځاي ته رسیدلي چي دتنظیمي ګټهو لپاره دمبارزي اوتحریك ټول اصول غوښتني اوتعهدات ترشاشي اوهغه څه ته غاړي کوزي شي چي په یوه کلیمه کي دتحریك اواسلامي مبارزي نژدي ۲۲ کلن ستومانه نفس له بیخه وباسي ، دمبارزي په داسي حساسو شیبو کي ده چي دافغانستان دمسلمان ولس دستي شووارمانونو دپوره کیدو اوزموږدمسلمانو خلکو دورکړیو قربانیو ددرنښت په خاطر دافغانستان اسلامي تحریك خپل بیل شوي وجود سره یو ځاي اوراټول کړي اودوروستي بري په لوردافغاني ټولني په سیاسي اوټولنیز ژوند کي په یوه قاطع اوډینامیکي ګام سره ولس دیو فاتح ځواك په حیث دګټلي فتحي په وياړووياړي .

دځمکنیو غونډه دداسي ډینامیکي حرکت لپاره یوامید کیداي شي دي غونډي دخلیج دربړي ، انتخاباتو ، ظاهرشاه زموږ په مسئله کي دابر قدرتونو اوهمسایه ملکونو ددریځ اوراتلونکي عبوري حکومت په هکله بیله پردي دولس دزړه غوښتني په هغه ډاګیزه لهجه اعلام کړي چي دتحریك همدي غړیو دخپلو تنظیمونو له ستیج څخه ممکن دسیاسي معاملو اواړیکو په وجه داسي ډاګیزه نشواي اعلانولاي .

دي غونډي به ځینو جهادي رهبرانو ته قوت اوځینو ته هم شجاعت ورکړي وي اودښمن به یي ضرورپه خپلو دریځونو باندي دغورلپاره له ځغلنده حرکت څخه درولي وي .

ولي ! هغه څه چي پدي غونډه کي باید ورته دانتقاد ګوته ونیول شي دادي چي پدي غونډه کي پروني خږ پرتحریکي ورونه له پروني بښي،هوډ،وفا اواخلاص سره نه وو راغلي ډیري ځیري ترتحریکیانو ټیکدارانو او سیاسي تجارانو ته ورنژدي وي دځمکنیو دیتیم خاني په چاپیریال کي نوي ماډل متسوبیشي ګانو اوپجیروګانو په خپلو ځلیدونکو رنګونو سره دیتیم خاني په وربایه کي کمان رستم جوړاوه هلته دیوه پلي اوپښي لوڅي ملت دخلکو په غونډه کي ترپلیو سپاره ډیر ووشاید هغو محترمو ورونو ته ترهرچاښه معلومه وي چي په اسلامي حکومت کي به هرعمردخپل کمیس دلمني داوږدوالي ځواب وایي .

زه کولي شم داامتیازونه تحمل کړم ځکه اوس طبقات زموږپه تنظیمونو کي تحمیل شوي او روان سکوت راته وایي چي تقریباً منل شوي دي خودتحریك له دردمندو ورونو سره دپیښوردمحیط په ژبه نه بلکه دتحریك په ژبه خبري کوم .

دي غونډي ته راغلي ویناوال نژدي ټول دتنظیمونو دوهمه درجه قدرتمند خلك وو، خداي(ج) وکړي چي هغوي په ځمکنیو کي دتحریك ژبه اودریځ خپلو تنظیمونو اودقدرت دفترونو ته هم ورسره وړي وي اوپه ځمکنیو کي یې په دارالایتام کي نه وي پري ایښي .

دافغانستان داسلامي تحریك دمتعهدو غړیو داسي غونډې باید دجهادي تنظیمونو لپاره دیوه خیر غوښتونکي اواصلاح کوونکي مخالف ځواك رول ولوبوي اودتخریب په لیکه نه بلکه دتعمیر په لیکه پر تنظیمونوانتقاد اودهغوي مخالفت وکړي

دخلیج جګړه ! اسلامي امت ته بله فاجعه

بی یهودیانو اونصرانیانو ترلاسه کوی.
په ډیرتاسف سره باید داهم ووایو چی دغه جګړه اودغه خونړی فاجعه شیبه په شیبه پراخیږی – توندیږی اودوینو اواورونو څپی یی وسعت پیداکوی .
داخبره په خپل ځای پاتی ده چی دجګړی د پیلیدو علت دکویټ پرکوچنی خپلواك هیواد دصدام حسین تیری او دهغه هیواد پوځی اشغال ؤ ، خوداهم یوه پرخپل ځای یو منلی واقعیت دی چی دسعودی واکمنو ترصدام حسین دوه چنده زیات حماقت وکړ چی دعراق له ویری یی داسلامی هیوادونو دپوځونو پرځای داسلام اومسلمانانو همیشنیو سرسختو دښمنانو ته دپوځونو دراستولو غوښتنه وکړه، له امریکا اوانګریزانو یی دمسلمانانو دکومك تمه ځکه خندنی ده چی دهغوی جفا داسلامی امت ددریو سترو ربړو «کشمیر، فلسطین او افغانستان » په اړه جوته اوڅرګنده وه ، اوپه خلیج کی داوسنی فاجعی اصلی پیل همغه وخت ؤ چی دامریکا په مشری په سعودی اوفارس خلیج کی دلویدیځو اسلام دښمنو اویهودپالو پوځو نه ځای پرځای شول .
که څه هم ځینو مسلمانو مشرانو خلیج اوسعودی عربستان ته دامریکایی اوانګلیسی پوځونو له رسیدو سره سم همغه وخت هم داوسنی فاجعی دپیښیدو خبرداری ورکړی ؤ خو په عام ډول متاسفانه اسلامی نړی‌داوسنی خطر ناکی جګړی دتباکوونکی اغیزپه باب ډیره بی پرواوغافله‌وه .
داسلامی هیوادونو مشرانو ته ښائیدل اودایی یواهم فرض ؤ چی په هرصورت یی لوړی دغه قضیه دلویدیځو اسلام دښمنه ځواکونو له لاسه ایستلی وای دهغوی دهرډول مداخلی مخنیوی یی کړی وای اودوهم داچی «صدام حسین » یی دی ته اړکړی وای چی په لوی لاس دخپل ملت ، عربی نړی اواسلامی امت دتباهی‌سبب نشی .
اسلامی امت باید په دی پوهیدلی وای چی امریکا په خلیج کی دجګړی داوریلول غواړی اوځکه یی غواړی چی یو خوبه دغه جګړه دمسلمانانو په کورکی وی چی هره ګولی ، راکټ اوبم به دمسلمان هستی اوشتمنی لوخړه کوی اوبل داچی دعراق پوځی طاقت به چی اسرائیل ته دخطر ګواښ دی کمزوری اوبیا له منځه ولاړ شی چی دادی بالاخره همغسی وشول ، له یوی خوا امریکا اومتحدین یی دورځی په سلګونو زره ټنه بمونه اوراکټونه دعراق دمسلمان ولس پر کوروونو اوسرونو اوروی هغه چی دروانی فاجعی په هکله هیڅ ډول مسوولیت هم نه لری هغوی دیوه دیکتاتوردعزایمو قربانی کیږی.
له بله پلوه عراق هم دامریکایی یرغل په وړاندی په جګړه کی ازمویل شوی اوتجربه لرونکی پوځ لری چی هرڅومره اوس عراق مقاومت اوټینګارکوی په مقابل کی یی دامریکااومتحدینو فشار اووحشت زیاتیږی ، اودغه جګړه ورو ورو له دواړو خواوو نه دکنترول اوتم کیدو له پولی وزی اوشیبه پر شیبه سختیږی چی بیا هم داسلامی امت هستی سوځی اوشتمنی یی لوخړی کیږی .
له بلی خوا دجګړی په دوهمه ورځ عراق پراسرائیل چی ددغی جګړی دپیل کیدو ترټولو زیات غوښتونکی ؤ توغندویی برید وکړ اوبیا په دریمه ورځ دغه برید یو ځل بیا تکرار شو چی کیدای شی ورو ورو اسرائیل هم پدغه جګړه کی دعراق پرخلاف ورګډ شی چی لااوس هم عراق دمتحدینو په هوایی بریدونو کی داسرائیلی الوتکو دګډون ادعا کوی چی بیا به یقیناً دخلیج روانه فاجعه نوره هم خونړی‌اوخطرناکه شی .
نوډټولواسلامی هیوادونو ، اجتماعی سازمانونو ، ازادی غوښتونکو غورځنګونواوپه ځانګړی ډول دملګرو ملتونو سازمان ستر مسوولیت دی چی زرترزوره په خلیج کی دروانی خونړی‌جګړی دمخنیوی لپاره لوړی یرغل کوونکی امریکایی قواوی له تیری څخه ایساری کړی اوبیا چی سمدلاسی عاجله پرېکړی وشی نو له کویټ نه دعراقی پوځونو دوتلو لپاره عراقی واکمن قانع کړی .
په پای کی پراسلامی هیوادونو یو ځل بیا غږ کوو چی خپل مسوولیت درك کړی دروانی خونړی‌جګړی دمخنیوی لپاره په لازم اقدام لاس پوری کړی ، دهغی جګړی داورلمبی نوری غلی کړی چی داسلام دښمنانو داسلام اومسلمانانو دله منځه وړلو اوسوځولو لپاره بلی کړی.

ومن الله التوفیق

په بغلان کي دمزدوررژیم ۱۰ تنه هلاك او۲ زغره وال ټانکونه ویجاړشول

دبغلان ولایت څخه په رارسیدلي رپوټ کي څرګنده شویده چي ددي سیمي زړورومجاهدینو دجدي په ۱۸ نیټه دګوداګي رژیم پوستي تربریدلونو لاندي ونیولي اوپدي لړ کي یي ۲ زغروال ټانکونه ویجاړاو۹ عرادي نقلیه وسیلي له منځه وړي دي .
برسیره پردي ددښمن ۱۰ تنه پلویان ځپل شوي او۱۸ تنه یي ټپیان او ۱۲ تنه نوریي له وسلوسره ژوندي نیول شوي دي دمجاهدینو له ډلي څخه یو تن ټپي شوي دي .

دهیئت تحریر ترنظر لاندي
مکاتباتي پته
پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاؤن پیښور
تیلفون :... (٤١٧٤٦)

دغزني قوماندانۍ او د بالاحصارفرقه د مجاهدینوترحملو لاندی ونیول شوه

دغزني ولایت اتلو مجاهدینو دجدي په ۱۸او ۲۰ نیټه پدي ولایت کي دڅانډارم قوماندانۍاودبالاحصار فرقه ترسخت وبریدونولاندي راوسته چي په نتیجه کي دمزدوررژیم ۷ تنه پلویان ځپل شوي اوګڼ شمیر یي ژوبل شوي دي اوهم دښمن ته درانده مالي تاوانونه واوښتل خبرزیاتوي ددي عملیاتو په لړکي یو تن مجاهد په شهادت ورسید روح یي ښاد .

که اسرائیل پرعراق برید وکړي نو پاکستان به دامریکی اواسرائیل ملاتړونه کړي (غلام اسحق خان)

دپاکستان ورځپاڼه – دجدی ۳۰ مه :
دپاکستان جمهوررئیس غلام اسحق خان ویلی دي چي که چیری اسرائیل پرعراق باندی برید وکړی نو پاکستان به دامریکی یا اسرائیلو ملاتړونکړی .
نوموړی دیکشنبی په ورځ دخبریالانو سره دخبرو په ترځ کي وویل چی پاکستان په منطقه کی لمړنی هیواد ؤ چی دامریکا مخالفت یی وکړ ، موږامریکا نوازان نه یو ولی امریکا اوس پداسی لاره روانه ده چی زموږاصولی موقف هم هغه تائید وی .
ښاغلی غلام اسحق خان خبریالانو ته وویل چي موږداسرائیلو سره له ابتدا څخه تراوسه مخالف یو ، موږداسرائیلو دهیواد له تشکیل سره مخالفت کړی ، اوس هم که اسرائیل پرعراق باندی تیری وکړی نوموړبه دهغی مخالفت کوواوکومه لاره چی اسلامی نړی‌ونیوله ، موږبه هم هغه خپله کړو.
ده وویل چی په سعودی عربستان کی دپاکستان دپوځ څو دستی دتجاوزکارانه فعالیتونو لپاره نه بلکه دمقدسه مقاماتو دتحفظ اوامنیت ساتلولپاره ځای پرځای شوی .
ښاغلی غلام اسحق خان همدارنګه وویل چی پاکستان تل دوحشیانه تیری مخالفت کړی ، پدی لړ کي پاکستان پر کشمیر ، افغانستان ، پانامه اوګرینادا باندی تیری په کلکه غندلی اوهمیشه دسولی اوآرامی غوښتنه کوی .
همدارازدیکشنبی دجدی ۳۰ مه په ماښام دپاکستان صدراعظم ښاغلی نوازشریف دخلیج دکړکیچ په باب ، په یوه راډیو تلویزیونی وینا کي اسرائیلو ته اخطارورکړ، ترڅو له خپلو جارحانه اوتجاوزکارانه اهدافو څخه لاس واخلی ، که نه نو درانه نتایج به وروپه برخه شی .
نوازشریف دخپلی وینا په ترځ کی دعراق په ولس باندی دمتحده پوځونودبمباردمان په هکله وویل:
دعراق په ولس چی نن کومی سکروټنی اوربیږی دادانصاف اوعدالت څخه لیری خبره ده ، ده وویل چی پرعراقی ولس باندی دی ددغه سکروټو اوریدل باید ژرترژره بند شی .
دپاکستان صدراعظم هم دخپلی وینا په ترځ کی په دی ټکی ټینګاروکړ چی په عربستان کی میشته دپاکستان دپوځ دستی یوازی دمقدسه مقاماتوحفاظت کوی هغه نه دامریکی ترقومانده لاندی دي اونه به په هیڅ ډول تجاوزکارانه فعالیت کی برخه واخلی .

دعراق مخابراتي سیستم بشپړ فعال دی «جنرال تام کیلي»

امریکا یي لوړرتبه جنرال تام کیلي اعتراف کړي چي امریکا اومتحدینو یي تراوسه بشپړ هوایي بري نه دي ترلاسه کړي ، همدارنګه دامریکا دپوځي استخباراتو مسوول جنرال جان میکایل ویلي دي چي دعراق جمهوررئیس « صدام حسین » تراوسه پوري پرخپلو پوځونو بشپړ کنترول لري اومخابراتي نظام یي هم فعال دي نوموړي ویلي چي عراق ستر پوځي قوت دي نوپر هغه دبشپړ بري لپاره کافي وخت ته ضرورت دي .

دروسیې دیکتاتورستالین په باب یوبه زړه پورې انکشاف

دماسکو ورځپاڼی دعوه کړی ده چی دروسی دکتاتورستالین دخپلوخلکو اوورانکارو څخه همیشه ډاریدواوخلکو ته پخپله دورتګ پرځای یی څو کلونه دځان په څیرله یوه تن څخه کاروااخیست .
د۱۹۳٤کال په وروستیو کې دپولټ بیرو ودغړی سرجی کیروف دوژنی څخه وروسته ستالین پټو جاسوسو شبکو ته امروکړچی زما په څیر یوتن پیداکړی نوهمغه وه چی دیهودی سیمو (یوکراین) یوتن یوسی سبتکی یی انتخاب کړ سبتکی یی ماسکوته ورساوه چی هلته ځینو ماهرانو او رایشګرویوه تولګی دده څیره اوقواره کټ ، مټ دستالین په څیر جوړه کړه .
سبتکی لمړی دسکاټ لیند دخلکو دیوی غونډی سره وکتل چی هغوی له دی څخه مخکی ستالین نه ؤلیدلی دادکریملین‌دبهرنیو چارودوزارت لپاره یوسخت ازمویښت ؤ خوسبتکی وښوده چی دی یوښه ممثل دی .
په ۱۹٥۲ کی سبتکی ونیول شواودسایبریا دبیګارکیمپ ته ولیږدول شو چی دستالین دمرګ څخه وروسته په دی شرط راخوشی کړای شو چی دی به دارازله ځانه سره ساتی خوسبتکی دخپل مرګ څخه یو څوورځی مخکی دالوظ مات کړ.

اسرائیل به په مناسب وخت دعراقي یرغلونو ځواب ورکړي (اسرائیلي ویندوی)

جنګ ورځپاڼه – دجدی ۳۰ مه :
پراسرائیلو باندی دعراق له لوری دمیزائیلو له حملی څخه وروسته دامریکا جمهوررئیس بُش دوه ځلی داسرائیلو له صدراعظم « اسحق شامیر» سره خبری‌وکړی ، اوددی ټینګاریی کړی ترڅو دعراقی حملو په ځواب کی کوم اقدام ونکړی .
دامریکی دتلویزیون د« C.N.N » شبکی درپوټ له مخی اسرائیل به ددغه حملی په ځواب کی کوم فوری اقدام نه کوی ، ولی داسرائیلو دحکومت یوه ترجمان ددغه تلویزیونی شبکی خبریال ته ویلی دی چی اسرائیل به په مناسب وخت دعراق ددی حملی ځواب ورکړی .
نوموړی ترجمان ویلی چی که څه هم پدی میزائیلو کی کیمیاوی ماده نه وه استعمال شوی خولدی نه دانتیجه نشواخیستلای چی عراق کیمیاوی وسله نلری ، ده وویل چی دعراق له خوانورو حملو احتمال شته ، ځکه نو داسرائیلوخلك باید هوښیاروواوسی .